# د خدائي خدمتګار
# فضل الرحيم ساقي څوارلسمه کليزه

عارف خان ساقي

وړومبې نومبر دخدائي خدمتګار فضل الرحيم ساقي صېب د کليزې ورځ ده. ساقي صېب چې په کال 1904 کښې پېدا شو او په 1930 کښې باچا خان سره په خدائي خدمتګار تحريک کښې شامل شو او د انګرېز خلاف ئې په عملي جدوجهد کښې فعال کردار ادا کړو. د جدوجهد په دوران کښې هغوي په کلونو قېد تېر کړو. په دې دوران کښې هغوي ته د انګرېز د طرف نه د مراعاتو پېشکشونه وشو، هغوي دا پېشکشونه رد کړل او په جدوجهد کښې فعال پاتې شو. په دې دوران کښې انګرېز د هغوي په بچو هم ډېر ظلمونه وکړل، خو ساقي صېب د خپل نېک مقصد نه وانهٔ وړېدو.

ساقي صېب چې کله په کلي شو نو خپلو نمسو ته او د کلي نورو ماشومانو ته ئې قران پاک ښودل شروع کړل او ورسره ئې اردو او پښتو ښودل هم شروع کړل. هغوي به وئيل چې تعليم يافته خلق د قومونو په ترقۍ کښې اهم کردار ادا کوي. هغوي به د ښو اخلاقو او د خلقو د خدمت درس ورکوو. په کال 1994 کښې د هغوي طبيعت خراب شو او په وړومبي نومبر 1994 ئې د دې فاني دنيا نه ابدي دنيا ته رحلت وکړو.

## خدائي خدمتګار

ښهٔ پاک ښکلي ژوندون د مصطفٰي نه
له ډېر صبر د مريم او د عيسٰي نه

له جرات او بې باکيو د موسٰي نه
له بې لوڅه قربانيو د يحيٰي نه

ابوبکر او عمر له صدقه عدله
د عثمان صاحب له زهده له حيا نه

د علي له سخاوت او شجاعته
له مضبوط زړهٔ د حسين د کربلا نه

د منصور د بې ساخته اعلانِ حق نه
د امام اعظم د علم د رڼا نه

د خوشحال خټک له کلکې ارادې نه
عملي جذبې او پاکې مينې ستا نه

راله جوړه دې خدائي خدمتګاري کړه
د پښتون د سترګو تور فخر افغانه

ستا لمن او د ساقي دواړه لاسونه
بېل دې نهٔ شي سوال کوم د پاک مولا نه

## وطـــــن

میرویس بابا پـه تـور لحد کښې خرخولے نهٔ شم
ځـواب شېرشـاه او احمد شـاه لـه ورکـولے نـهٔ شـم
د خوشحال خان پګړۍ پـه خاورو کښې لړلے نهٔ شم
خـواري د خـان فخـر افغـان پـه اور سـېزلے نـهٔ شـم

د پښتنو زمکه بـل چا تـه پرېښـودلے نهٔ شم

خپـل سـر بـه وخـوري کـهٔ دارا کـهٔ سـکندر راشـي
قـادر مـې شـتـه دے ویـره نشـتـه کـهٔ نـادر راشـي
کـهٔ دوبـاره زنـدګي بیـا مـومي هټلـر راشـي
کهٔ د چرچـل پـه شـان مېـدان تـه سـل او زر راشـي
د خپلې پُـولې نـه یـو انـچ وروسـتـه کېدلے نهٔ شم

د پښـتنو زمکـه بـل چاتـه پرېښـودلے نـهٔ شـم

دلتــه هډونــه د نومیــالو پښــتنو پراتــهٔ دي
دلتــه کورونــه د ســیالانو پرګنــو پراتــهٔ دي
دلتــه ټیکــري د پــرده دارو اســتانو پراتــهٔ دي
تــورې ډالونــه د اســلافو ورومبنــو پراتــهٔ دي
دا تــورې خــاورې پــه لالونــو ورکــولے نــهٔ شــم

د پښـتنو زمکـه بـل چـا تـه پرېښـودلے نهٔ شم

زرګونـه کالـه وشـو دلتـه کښـې ابـاد مـونږه یـو
د دې وطـن پـه سـترو ښـادو ښـاد مـونږه یـو
ټولـو چلونـو بانـدې پوهـه د صـیاد مـونږه یـو
پـه مرګ اتیـا ځلـه خوشـحاله لـه بـائیلاد مـونږه یـو
مـخ پـه بـل لـور لـه سـپیني تـورې اړولے نهٔ شم

د پښـتنو زمکـه بـل چاتـه پرېښـودلے نـهٔ شـم

کـهٔ کـاڼي ټـول اېـټم بمونـه شـي یـو ځـل مـرګ دے
ویـره مـې نشـتـه د هـر چـا پـه خپـل اجـل مـرګ دے
نر پـه مېدان مري پـه کنډو کښې د بزدل مرګ دے
د بُزدلـۍ ژونـدون پـه اور وسـوزه تـل مـرګ دے
بغېـر لـه خدایـه سـر بـل چـا تـه ټیټـولے نـهٔ شـم

د پښـتنو زمکـه بـل چـا تـه پرېښـودلے نـهٔ شـم

جامونـه ووېشـه محفـل کښـې وار پـه وار سـاقي
نوجوانـان د قـام پـه مینـه کـړه سرشـار سـاقي
د قـام دشمن تـه خـار او خس کـړه ذوالفقـار سـاقي
مـوذي بدبختـه بانـدې ونـهٔ کـړې اعتبـار سـاقي
د غلامـۍ ژونـدون د هیچـا تېـرولے نـهٔ شـم

د پښـتنو زمکـه بـل چاتـه پرېښـودلے نـهٔ شـم

## لـــــرې

چــې نظــر پــه لــرو بــرو د قــام لــرې
پــه عــالمو کښــې اوچــت مقــام لــرې

چـې د قـام پـه سـپکه ورکـه مـلا تـړ وکـړې
د مردانــو پــه شــان ننــګ و نــام لــرې

چــې د ځــان د خېلخــانې شــرمونه پــټ کــړې
بیــا هــم ښــه دي چــې دا دومــره پــام لــرې

هغــه نــر چــې نــهٔ د قــام وي نــهٔ د ځــان وي
رنــګ ئــې ورک شــه کــهٔ د زرو بــام لــرې

سـاقي مـړ نـهٔ دے ژونـدے دے پـس لـه مرګـه
چــې د شــاتو نــه شــیرین کــلام لــرې